مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۶/۰۴/۱۹

# ما مینه تاسره جانانه کړې

ما مینه تاسره جانانه کړې
هغه ورځ چې د بوډۍ ټال
د اسمان پر سینه
په رنګینوو کرښو کې
ماته ځانګو د محبت پرانیسته
د مازدیګر مهال و
چې مې منګی را ډکولو
نرۍ باران شو
منګی ښکته
د چینې اوبو ته ولویدلو
زما د غاړې لونګین
دانې دانې لاړ
د چینې اوبو کې  پریوتلو
زه لړ اوتره شولم
تر مروندونو مې وربنکته کړل لاسونه
یخو اوبو کې مې لاس وریږده
تا په ځواکمن لاس مې مروند ونیوه
دا ډاډ دې راکړ، چې خطا وار نه کړم
او په اوبو کې دې لټون پیل کړ
دا د چینې اوبه وې ډیرې سړې
زړه کې مې تیر شول
چې به بخو اوبو
کې دې لاسونو ته درد ونه رسي
مخ مې درواړولو
ما کړل لونګ لرمه
مور به مې بل لونګین وپیيې
تا ماته وکتلې
د مینې ځل، له دواړو سترګو راته وبرېښیده


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

بله ورخ د چيني پر شنه جلګه دې
زما لار څارله
او د منګي  د اوبو سکلو ته
دې لپه کړل لاسونه
وروسته بيا هره ورځ
د دې چينې له اوبو
د ژوند منګی ډکوم
او لا تر اوسه
پرې خړوب يوو دواړه
هو، پرې خړوب يوو دواړه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ